## مطبوعاتي اعلاميه

# د افغانستان مخلص خلک او متنفذين بايد د امريکا د جنايتونو پر وړاندې چوپ پاتې نشي

د عقرب په ۱۳مه د کندوز په چاردرې ولسوالۍ کې د امريکايي ځواکونو په بريد کې تر دېرشو ډېر کسان، چې ماشومان، ښځې او سپين‌ږيري هم پکې شامل وو، مړه او ټپيان شول؛ په داسې حال کې چې په افغانستان کې د امريکا هوايي ځواکونو د عقرب په ۱۶مه د يوې خبرپاڼې په خپرولو اعلان وکړ، چې په کندوز کې د دغو ځواکونو څېړنې ښيي، چې د هغوی په بريد کې هېڅ غيرنظامي ټپي او وژل شوی نه دی. بلکې ټينګار يې وکړ، چې په دغو عملياتو کې يو شمېر ياغيان وژل شوي دي. د دې پېښې په اړه د افغانستان خاينو چارواکو هېڅ غبرګون ونه ښود؛ خو د امريکا په تکزاس ايالت کې يې پر يوې کليسا پر بريد له هغوی سره ژوره خواخوږي او غم‌شريکي څرګنده کړه.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دا ډول بريدونه او د چارواکو دريځ په خورا سختو الفاظو غندي. دا پېښه يو ځل بيا د جان کېري دولت د چارواکو ذلت په ډاګه کوي؛ ځکه دوی د خپل حکومت په لومړيو ۲۴ ساعتونو کې له خپل بادار سره له شرمه ډک امنيتي تړون لاسليک کړ. دوی دومره پرديپال شوي، چې په غرب کې د هرې غټې او وړې پېښې په اړه غبرګون او همدردي څرګندوي؛ خو د افغانستان د بې‌ګناه مسلمانانو پر تلفاتو يې خوله پټه ده. د دې تر څنګ دولت د بهرنيو ځواکونو د جنايتونو د پټولو په موخه څو-څو ځله د هغوی د بمباريو مسئوليت د افغان پوځ پر غاړه وراچولی دی.

موږ يو ځل بيا د افغانستان پر مخلصو خلکو او متنفذينو باندې له اخلاص نه ډک غږ کوو، چې راشئ د دا ډول پېښو پر وړاندې نور چُپ پاتې نشو او هغه کورني اختلافونه، چې بهرنيو دولتونو او سفارتونو يې زموږ په ولس کې راپيدا کړي، پرېږدو او د چين او روسيې غبږې ته له پنا وړلو پرته، د امريکا، ناټو او له دوی سره د ستراتيژيکو او امنيتي تړونونو پر وړاندې راپاڅو. ځکه د يوه اشغالګر دفع د بل استعمارګر په مرسته او همدارز د لويې جرګې د جوړولو له لارې «د شته ناوړه سياسي او امنيتي حالت پای ته رسول» اصلاً ناممکن دي؛ بلکې له دې او دې ته ورته نورو بالفعل محاربو کفارو سره دوستي شرعاً حرامه ده. نو خپله فکري او سياسي کرښه مو له دولت، شرقي او غربي قدرتونو بېله کړئ او د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ باندې د منګولو لګولو له لارې خپلې ورتياوې او سرچينې سره يو کړئ؛ تر څو يو بل ته لاس ورکړو او شته ناوړه حالت ته د پای ټکی کېږدو.

## د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر